## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**23جوزا_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

ننگرهار کي له ۳۸۵ کورنيو سره مرسته وشوه ---------------------------------------------------------------------1
برای ۱۶ خانواده در ولایت پروان کمک نقدی توزیع شد------------------------------------------------------------1
هلمند کي له لسګونو کورنيو سره مرسته وشوه ---------------------------------------------------------------------2
بیش از ۳۰۰ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود --------------------------------------------------------3
د بلغاريا پلازمېنه صوفيا کي د ډوبلين پروسيجر لاندې کډوال: «له ژونده تنګ راغلی يم«----------------------------4
د هنګري او صربيا پر پوله د انساني قاچاقبرانو او جنايتکارانو فعاليتونه---------------------------------------------9
اقدامات جدید فنلند برای جلوگیری از ورود پناهجویان ---------------------------------------------------------13

# متن کامل اخبار

## ننګرهار کې له ۳۸۵ کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت




**په ننګرهار ولایت کې د غبرګولي پر یوویشتمه ۳۸۵ کورنیو ته نغدي مرسته ووېشل شوه.**
**په دغو کورنیو کې راستانه شوي شامل وو، چې وړاندې د ننګرهار د مهاجرینو چارو ریاست له خوا د کوزکونړ په ولسوالۍ کې اړمن پېژندل شوي وو او د JEN موسسې له لوري ټولو کورنیو ته نهه ډوله خوراکي او غیر خوراکي توکي د د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ادارې په څارنه ووېشل شول.**

### برای ۱۶ خانواده در ولایت پروان کمک نقدی توزیع شد

ویب سایت وزارت



برای ۱۶ خانواده عودت کننده و بیجاشده در ولایت پروان کمک نقدی بتاریخ ۲۱ جوزا توزیع شد.
خانواده های یاد شده از طرف ریاست امور مهاجرین آن ولایت قبلا مورد سروی و شناسایی قرارگرفته بودند مبلغ ۱۷ هزار و ۷۵۰ افغانی از جانب کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان را دریافت نمودند.

## هلمند کې له لسګونو کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**په هلمند ولایت کې د غبرګولي پر یوویشتمه ۸۴ کورنیو ته نغدي مرسته ووېشل شوه.**

**په دغو کورنیو کې هغه راستانت شوي شامل وو، چې مخکې د هلمند د مهاجرینو چارو ادارې له خوا د نادعلي په ولسوالۍ کې اړمن پېژندل شوي وو او له لوږې سره د مبارزې موسسې له لوري هرې کورنۍ ته ۲۰ زره او ۱۸۰ افغانۍ مرسته ووېشل شوه.**

## بیش از ۳۰۰ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**۳۷۱ تن مهاجر افغان به تاریخ ۲۱ جوزا از مرز سپین بولدک و خط فرضی تورخم به کشور برگشت نموده اند.**

**به اساس معلومات آمر سرحدی تورخم ولایت ننگرهار، ۵۶ خانواده که شامل ۲۶۱ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.**

**و به اساس معلومات آمر سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار، ۲۴ خانواده شامل ۱۱۰ تن از آن طریق برگشت بعد از ثبت در آن آمریت جهت کمک به دفاتر سازمان بین المللی مهاجرت، سازمان جهانی خوراک و کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان معرفی و برای هر خانواده مطابق به طرز العمل از طرف امارت اسلامی نیز کمک صورت گرفته است.**

## د بلغاریا پلازمېنه صوفیا کې د ډوبلین پروسیجر لاندې کډوال: «له ژونده تنګ راغلی یم»

مهاجرنیوز



**د صوفیا په ووښنا رامپا کمپ کې پر تازه رسېدلو پناه غوښتونکو سربېره هغه مهاجر هم لیدل کېږي چې د ډوبلین د مقرراتو پر اساس د اروپايي ټولنې له یو شمېر هېوادونو څخه بېرته بلغاریا ته استول شوي دي. دغه کډوال چې زیات شمېر افغانان هم پکې شامل دي له استرس او وېرې ډکې شپې ورځې تېروي. په ورته مهال صوفیا کې مرستندویه سازمانونه د یادو مهاجرو د ناڅرګند برخلیک او بلغاریا کې د ادغام مکانیزم د نشتوالي په اړه خبرداری ورکوي .**

***له بلغاریا څخه ځانګړی راپور***

**نن (چهارشنبه، د ۲۰۲۴ د می ۵) د بلغاریا پلازمېنه صوفیا کې هوا ډېره ګرمه ده .سهراب* چې نازکې جامې یې اغوستې دي او له خپل ملګري نوید سره د ووښنا رامپا په مهاجر کمپ کې اوسېږي، د یوې ونې لاندې ولاړ دی. دغه پنځه ویشت کلن کډوال چې د بغلان ولایت دی دوه کاله مخکې د کډوالۍ پر سختو لارو اروپا ته رسېدلی دی.**

**هغه چې پخواني نظام کې یې د افسر په توګه دنده ترسره کړې، د طالبانو له واکمنېدو وروسته د ګواښونو له امله پاکستان ته تللی او له هغه ځای څخه یې ځان د ایران، ترکیې، بلغاریا، صربستان، کرواسي او ایټالیا هېوادونو ته له لارې سویس ته رسولی دی.**

دغه ځوان مهاجر وايي: «نېږدې اوه مياشتې مې په سويس کې تېرې کړې، خو په بلغاريا کې مې ګوتې لګولې وې او سويس کې مې غوښتنه رد شوه. چارواکو بېرته بلغاريا ته واستولم«.

سهراب په ۲۰۲۲ کال کې د ترکيې له لارې د بلغاريا خاورې ته داخل شو، خو امنيتي ځواکونو ونيوه او بندي خانې ته يې واچاوه. هغه د خپل ژوند د دغو سختو شېبو په اړه وايي: « تر ۲۰ زيات کسان په يوه کوټه کې ساتل کېدل او لومړنيو اسانتياوو ته يې لاسرسی نه درلود. ما ته يوازې دوه لارې را پاتې وې: دا چې په بلغاريا کې پناه وغواړم او له زندان څخه ووځم، او يا څو مياشتې زندان کې تېرې کړم«.

دا هم ولولئ
<u>د بلغاريا پوليس ۱۱ افغان کډوال نيولي</u>




ووېنا راميا کمپ مخې ته د ژاندارمرۍ موټر. انځور: کډوال نيوز

له مجبورۍ پناه غوښتل

د بلغاريا د قانون له مخې، له اسنادو پرته دغه هېواد ته ننوتل جرم ګڼل کېږي .د وايس حقوقي مرکز د مشرې ديانا رادوسلاووا په وينا، که څه هم بندي خانې

د اخراجېدونکي کسانو (هغه کسان چې د پناه غوښتنه یې نه ده کړې او یا یې غوښتنه د ډوبلین د قواعدو یا نورو دلایلو له امله رد شوې) لپاره دي، خو «له بده مرغه، پر پوله د نیول شویو کسانو لویه برخه د کډوالو مرکز ته تر استول کېدو مخکې د امنیتي دلایلو له امله د یوې یا دوو اونیو لپاره بندي خانې ته استول کېږي».

بل لور ته بلغاریا کې د هلسینکي کمیټې مشره الیانا ساووا وایي: «ډېری کډوال اسناد نه لري او د قانون له مخې تر عدلي تعقیب لاندې نه راځي. دغه کسان یا بندي خانې ته استول کېږي او هلته د پناه غوښتنه کوي او خوشي کېږي او یا د هغه هېواد پر لور خپل سفر ته ادامه ورکوي چې اصلي مقصد یې دی».

سهراب چې ۱۴ ورځې یې د بندي خانې په سختو شرایطو کې تېرې کړې وایي له مجبورۍ څخه یې د پناه غوښتنه وکړه او د کډوالو پرانیستي کمپ اوچا کوپل ته واستول شو. هغه زیاتوي: «په کمپ کې د ژوندانه شرایط ډېر سخت وو. هلته مې تر خپله وسه ګذاره وکړه او بیا مې د صربستان، کرواسي او ایتالیا له لارې ځان سویس ته ورساوه.» خو سویسي چارواکو یې غوښتنه ونه منله او د ډوبلین د مقرراتو پر اساس یې بېرته بلغاریا ته واستاوه.


د وایس حقوقي مرکز مشره دیانا رادوسلاووا خپل دفتر کې. انځور: کډوال نیوز

نږدې ۶۰۰ کډوال بلغاریا ته استول شوي

بلغاریا ته د هغو کډوالو استول کومه نوې خبره نه ده چې د ډوبلین تر قاعدې لاندې راځي. د ډوبلین د مقرراتو له مخې هغه پناه غوښتونکي چې په لومړي ځل یې په کوم اروپایي هېواد کې ګوتې لګولې وي، هماغه هېواد یې د دوسیو د ارزولو مسولیت لري. د بلغاریا دولتي رسنۍ بي تي اې د روان کال په مارچ میاشت کې راپور ورکړی و چې اتریشي چارواکو د ډوبلین د قواعدو له مخې تر ۷۰ زیات پناه غوښتونکي چې ډېری یې د افغانستان او سوریې وګړي وو بلغاریا ته استولي دي.

د بلغاریا د کډوالو اداري د شمېرو له مخې، په ۲۰۲۳ کې ۵۹۰ کډوال د ډوبلین د مقرراتو پر اساس دغه هېواد ته استول شوي دي چې دغه شمېرې د ۲۰۲۲ په پرتله ۱۹۲، د ۲۰۲۱ په پرتله ۱۵۸ او د ۲۰۲۰ په پرتله ۱۳۴۲ سلنه زیاتولی ښیي.

د بالکان د دغه هېواد د قانون له مخې، ډوبلیني پناه غوښتونکي بلغاریا کې له دوو حالاتو سره مخامخ کېدای شي. لومړی هغه کډوال چې د بلغاریایي چارواکو له مثبت یا منفي ځواب مخکې له دغه هېواد څخه وتلی دي: د وایس حقوقي مرکز وایي چې ډېری وختونه د دغو پناه غوښتونکو په غیاب کې د هغوی د دوسیو د ارزولو لړۍ درول کېږي. دغه کسان بلغاریا ته له استول کېدو سره سم باید د کډوالو له اداري څخه د خپلو دوسیو د بېرته پرانیستو غوښتنه وکړي.

دویمه ډله کې بیا هغه کسان شاملېږي چې بلغاریا کې یې دوسیې رد شوي دي: که چېرې هغوی د منفي ځواب پر مهال بلغاریا کې وي او د استیناف غوښتنه ونه کړي، نو دوسیه به یې په قطعي ډول رد کېږي .خو که یې دوسیې له بلغاریا څخه تر وتلو وروسته رد شوې وي، نو هغوی د »غیرقانوني» پناه غوښتونکو په توګه پېژندل کېږي او بلغاریا ته د استول کېدو په صورت کې بندي خانې ته استول کېږي.

دا هم ولولئ
د بلغاریا او ترکیې پر پوله د سرحدي ساتونکو شمېر درې برابره ډېرېږي

له ۶ څخه تر ۱۸ میاشتې بند

سهراب وایي چې له سویس څخه تر اخراج وروسته د صوفیا ووېنا رامپا پرانیستي کمپ ته واستول شو ځکه یې دوسیه نهایي شوې نه وه. هغه چې د ۲۰۲۳ په اپریل میاشت کې بلغاریا ته بېرته استول شوی دی، اوس د محکمې د ځواب په تمه دی. دغه ځوان کډوال وایي چې د محکمې پرېکړې ته «خوشبینه» نه دی او وېره لري چې د منفي ځواب په صورت کې به بندي خانې ته واستول شي.

بلغاریا کې لاندې بندي خانې هغو بهرنیانو ته ځانګړې شوې دي چې اخراجېدونکي بلل کېږي او دغه هېواد ته د پاتې کېدو لپاره کافي دلایل نه لري: صوفیا ته نږدې بوسمانستي او له ترکیې سره پولې ته څېرمه لیوبیمتز مرکزونه.

د وایس حقوقي مرکز مشره دیانا رادوسلاووا وایي چې دغه مرکزونه هم د کډوالو په اړه د لومړنیو تحقیقاتو او هم د هغوی د اخراج لپاره کارول کېږي. نوموړې زیاتوي: «که چېرې د پناه غوښتونکو دوسیې رد شي، نو دوی اخراجېدونکي بلل کېږي او کېدای شي چې تر ۱۸ میاشتو پورې زندان کې وساتل شي. د ۲۰۲۲ او ۲۰۲۳ کلونو ترمنځ د زندان موده ۶ میاشتې ټاکل شوې وه، خو د ۲۰۲۳ له مۍ میاشتې راهیسې دغه موده تر ۱۸ میاشتو پورې غځول کېږي«.

صوفیا کې د هلسینکي کمېټې مشرې الیانا ساووا بیا وایي چې دغه موده یوازې هغه مهال غځول کېږي چې «امنیتي ګواښونه – ملي امنیت او یا عامه نظم ته ګواښ - موجود وي». هغه زیاتوي چې دغه موارد «ډېر نادر» دي.

دا هم ولولئ
بلغاریا: « کډوال په سپیو داړل کېږي او ورته د طالبانو خطاب کېږي«



دوه افغان کډوال د ووېنا رامپا کمپ پر لور روان دي. انځور: کډوال نیوز

»قضايي او تولنيزه خلا«

خو له دغو مرکزونو څخه تر خوشي کېدو وروسته د هغو کډوالو برخليک څنګه کېږي چې د سياسي دلايلو له امله يې اخراجول ممکن نه دي؟ د دوارو سازمانونو مشراني وايي چې کډوال د بند د مودې له تېرولو وروسته له توقيف ځای څخه خوشي کېږي او اړ دي چې د خپل راتلونکي په اړه پخپله پرېکړه کوي. ديانا رادوسلاووا وايي: »له ۱۸ مياشتو وروسته د زندان دروازه پرانيستل کېږي او کډوال له يوې لويې قضايي او تولنيزه خلا سره مخ کېږي. د دغو مهاجرو د ادغام او يا بلغاريا کې د هغوی د پاتې کېدو د قانوني کولو لپاره هېڅ کوم مکانيزم نشته«.

د هلسينکي کمېټې مشره ايليانا ساووا هم د افغانانو قضيې ته په اشارې سره وايي چې د دغو کډوالو اخراج ممکن نه دی. هغه وايي د پناه غوښتنې د چټکی لړۍ موخه دا ده چې »رد شوي کډوال له بلغاريا څخه مبدا هېواد ته واستول شي، خو ستونزه دا ده چې د ترکيې او اروپايي ټولنې ترمنځ د دريمو هېوادونو د کډوالو د منلو پر سر توافق نشته.« آغلې ساووا زياتوي چې د دغو پروسيجرونو هدف دا دی چې »د واقعي پناه غوښتونکو او د هغو کسانو ترمنځ توپير رامنځته شي کوم چې غوارړي له دغه سيستم څخه ناوړه ګټه ترلاسه کړي.«

په دې منځ کې د هغو پناه غوښتونکو برخليک ناڅرګند پاتې دی چې د سهراب په څېر د ګواښونو له امله له خپل هېواد څخه تېښتېدلی او نه شي کولی چې بېرته افغانستان ته ستون شي. سهراب وايي چې سويس او بلغاريا ترې »د فوټبال توپ« جوړ کړی او هېڅ يو يې ستونزو ته توجه نه کوي. هغه زياتوي: »دلته له ژونده تنګ راغلی يم. اوس د محکمې ځواب ته انتظار کوم خو که ځواب منفي وي ايران يا پاکستان ته ځم .اروپايي هېوادونه ځان د بشري حقونو زانګو بولي، خو ما پر دغو تشو خبرو خپل اعتماد له لاسه ورکړی دی «.

## د هنګري او صربيا پر پوله د انساني قاچاقبرانو او جنايتکارانو فعاليتونه

مهاجرنيوز




هنګري يو له هغو هيوادونو څخه دی چې تل د کډوالو د سختو سياستونو او د اروپايي ټولنې او نړيوالو قوانينو څخه پر سرغړونې تورن دی. په دغه هيواد کې د کډوالو ناوړه وضعيت د کډوالو قاچاق ته لاره هواره کړې .

د هنګري دولت په دې باور دی چې يو کس بايد په هغه هيواد کې لومړی د پناه غوښتنه ثبت کړي چې له هغه څخه تيرېږي. له دې کار سره په هنګري کې تقريبا د پناه غوښتنه ناممکنه شوې او پرته له دې چې خلکو ته د پناه غوښتنې اجازه ورکړل، بيرته ګاونډ هيواد صربيا ته شړل کيږي.

هنګري له صربيا او کرواسي سره په خپلو جنوبي پولو کې ۱،۷ ميليارده لګښت کړی تر څو د کډوالو د مخنيوي لپاره موانع جوړ کړي. کله چې کرواسي د ۲۰۲۳ کال په پای کې د شينګن له سيمې سره يو ځای شوه بايد هنګري له دغه هيواد سره د پولو په اوږدو کې شته موانع له منځه وړی وای خو لاهم د ۱۷۵ کيلومتره په اوږدو کې پر پولو خنډونه پر ځای پاتي.

دا مهال هنګري له صربيا سره خپلې ټولې پولې تړلي نو له همدې امله په سيمه کې انساني قاچاقچبرانو ته فرصت رامنځ ته شوی تر څو له کډوالو څخه ناوړه ګټه پورته کړي. د قاچاقبرانو شبکې او جنايت کارې ډلې د هنګري او صربيا پر پوله په پراخ ډول فعاليت لري چې له امله يي کډوال له تاوتريخوالو او زورونې سره مخامخ کيږي.

د قاچاقي شبکو وده

د کډوالۍ نړيوال سازمان ( ای او ام) مشر دانيل باګا ميري له کډوال نيوز سره په مرکه کې ويلي چې د هنګري حکومت هڅه کوي چې د خپل جنوبي پولو تړل په يو ډول توجيه کړي او وښيي چې دغه کار د اروپايي پولو د ساتنې لپاره کوي.

کارپوهان مني چې د پولو ترل انساني قاچاقچیانو ته د کار و بار لاره هواره کړې او له پولې څخه تیریدل ډیر خطرناک او سخت شوی دی.



د هنګري او صربیا پر پوله د پولیسو لخوا د یو کډوال نیول. انځور: اکتوبر ۲۰۲۳

په صربیا کې د کلیک اکتیف په نوم یوې مرستندویه موسسې څخه میلیکا سوابیک په دې اړه د خفګان په څرګندولو سره وایي:« په دغه ستونزه کې انساني قاچبران ډیر مهم دي ځکه د خلکو لپاره ناشونی دی چې له بلې لارې له پولو واوړي. له سربیا څخه اروپایي هیوادونو ته د ننوتلو لپاره هیڅ بشري دهلیز نشته، کومه قانوني لاره نشته«.

دا هم ولولئ
هنګری څنګه خیله دروازه د پناه غوښتونکو پر مخ وتړله؟

په سیمه کې د پناه غوښتنې د مرکز (APC) مشر رادوس دورویک په وینا هنګري او اتریش هڅه کوي چې پر صربیا د کډوالو فشار ډیر کړي. نوموړی په دې باور دی چې پر پولو د موانعو جوړول او د مالي او انساني منابعو کارول پرته له دې چې انساني قاچاق ډیر کړي، نوره ګټه نه لري.

د تاوتریخوالو ډیریدل

کار پوهان باور لري چې د هنګري او صربیا د پولو تړل او محدودیتونه د تاوترخوالو د ډیریدو او د کډوالو د وژنې لامل ګرځي. د کلیک اکتیف موسسې مشر وایي چې تیر اکتوبر میاشت کې د هنګري او صربیا پر پوله تاوتریخوالی او ډزې لومړی پیښنه نه وه. د هغه په خبره له ۲۰۲۲ کال راهیسې د داډول پیښو کچه ډیره شوې ده.

نوموړی په دې اړه وایي:« هرو دوو یا دریو میاشتو کې په غیر رسمي کمپونو کې ډزې کیږي.» دغه نښتې د انساني قاچاقبرانو او کډوالو ترمنځ د پیسو پر سر رامنځ ته کیږي.



د صربیا او هنګري پر پوله له کډوالو څخه پاتي توکي. انځورKlikAktiv:

د هغو معلوماتو له مخې چې د اروپایي شورا او د صربیا چارواکو لخوا نشر شوی و، جنایتکاره ډلې او وسله وال د کډوالو له منځه رامنځ ته کیږي او دغه کډوال د نورو قاچاقبرانو د لاس ښکار ګرځي. د مرستندویانو په باور صربیا کې قاچاقبران سیمه ایز خلک او پخوانی جنایتکارې ډلې دي چې د وسلو او مخدره توکو په قاچاق کې لاس لري.

د میلیکا سوابیک په وینا« د پولو په شاوخوا کې تولې سیمې او کلي په انساني قاچاق کې ښکیل دي«.

د غیر رسمي پنډغالو رامنځ ته کیدل

د هنګري او صربیا د پولو په اوږدو کې غیر رسمي پنډغالي په ۲۰۱۹ کال کې د کډوالو لخوا جوړې شوې چې تر اوسه د کډوالو لخوا اداره کیږي. د دغو پولو په اوږدو کې د کډوالو لپاره رسمي کمپونه نه دي جوړ شوي.

ډیری دغه پنډغالي د مجردو ځوانو کډوالو لخوا اشغال شوي او کډوال له پولو څخه د اوښتو وړاندې په دغو کمپونو کې د لنډ مهال لپاره توقف کوي.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




د صربیا او هنګري پوله. انځور: کډوال نیوز

میلیکا سوابیک وایي چې په دغو پنډغالو کې ورځ تر بلې د کډوالو او انساني قاچاقبرانو شمیر ډیریږي او وضعت خرابیږي. نوموړی وایي چې مرستندویه سازمانونو و موندل چې په دغو سیمو کې ۴۰ پنډغالي فعالې دي.

میلیکا سوابیک وایي چې ډیری دغه پنډغالي د ښارونو لرې دي او په ځنګلونو کې کډوال خپلې خیمې ترلي او یا هم په زړو ودانویو کې یې ځان ته جونګړې جوړې کړې دي.

دغه مرستندویه کارکوونکی وایي چې په سمه کې د کډوالو لپاره د معلوماتو نشتوالی د دې لامل ګرځیدلی چې کډوال د انساني قاچاقبرانو ښکارشي.

## اقدامات جدید فنلند برای جلوگیری از ورود پناهجویان

مهاجرنیوز




فنلند روسیه را متهم می کند که مهاجران را از طریق مرز به این کشور انتقال می دهد. ماسکو این اتهام را رد می کند و فنلند و ناتو را مقصر می داند. دو دوست سوریایی تعریف می کنند که چگونه خود را با بایسیکل به مرز رسانده اند.

در این منطقه زیبا در شرق فنلند که طولانی ترین مرز اتحادیه اروپا با روسیه است، در میان جنگل ها و تپه ها و دریاچه های آبی فقط وز وز پشه ها است که سکوت را در هم می شکند. اما مقام های فنلند از این هراس دارند که صلح و آرامش مناطقی مانند هوی لالا به زودی با سرازیری شمار زیادی از پناهجویان به هم بخورد. وضعیتی که هلسینکی از آن به عنوان «جنگ ترکیبی» یاد می کند که روسیه برعلیه غرب به راه انداخته است.

فنلند تعداد گاردهای مرزی، هواپیماهای بدون سرنشین و حسگرهای برقی را در مرز افزایش داده و در حال احداث حصارهایی در امتداد بخش هایی از مرز می باشد. در هلسینکی انتظار می رود که پارلمان قبل از آغاز تعطیلات تابستانی مقرره جدیدی را تصویب کند که منتقدان آن را ناقض تعهدات این کشور نسبت به موازین حقوق بشر می دانند.

پس از این که حدود ۱۳۰۰ مهاجر از کشورهایی مانند سوریه و سومالیا از طریق مرز روسیه وارد فنلند شدند، این کشور در سال گذشته همه معابر مرزی را در امتداد این مرز که ۱۳۴۰ کیلومتر مسافت دارد، به مدت نامحدود مسدود کرد.

از آن زمان، فقط تعداد محدودی از پناهجویان توانسته اند از این مرز جنگلی وارد فنلند شوند. اما هلسینکی از این اطمینان دارد که کرملین برای انتقال شمار بیشتری از مهاجران کاملا آماده است و این کار در هر زمانی می تواند رخ دهد. ادعایی که ماسکو شدیدا رد می کند.

در همین زمینه

فنلند جزئیات طرح قانون مقابله با مهاجرت از روسیه را اعلام کرد

براساس مقرره جدید برنامه ریزی شده که قرار است توسط پارلمان فنلند به تصویب برسند، به گاردهای مرزی فنلند این اختیار داده شده است که هزاران سربازان احتیاطی را برای کمک به نیروهای گزمه در مرز فرابخوانند. آن ها قرار است سیگنال های خط تلفون مهاجران را شناسایی کنند، مهاجران را به مراکز بازداشت بفرستند و آن ها را بدون پذیرش درخواست های پناهندگی شان به روسیه به عقب بزنند که مجادله برانگیزترین بخش مسوده قانون جدید می باشد.



شمار زیادی از مهاجران با ایسکل یا پیاده از روسیه خود را به گذرگاه‌های مرزی با فنلند می‌رسانند. عکس: گذرگاه سالا، رویترز ۲۳ نومبر ۲۰۲۳.

ماری رانتانن، وزیر داخله فنلند از حزب ملی گرای فنلند به رویترز گفت: «فنلند نمی تواند اجازه دهد که یک مسیر جدید (برای مهاجران) به اروپا گشوده شود .اما در کل (فقط) مساله مسیر مهاجرت مطرح نیست: ما در وضعیتی هستیم که مقام های دولتی یک کشور دیگر برای آوردن مهاجران به مرز فنلند کمک می کنند، یا حتی به آن ها فشار می آورند وآن ها را به سوی مرز می رانند«.

روابط فنلند با ماسکو که زمانی نسبتا صمیمی بود، پس از این که فنلند تصمیم گرفت به ناتو ملحق شود، به وخامت گرایید. فنلند پس از حمله روسیه به اوکراین به تاریخ ۲۴ فبروری سال ۲۰۲۲ تصمیم به انجام این کار گرفت.

داستان دو دوست سوریایی

داستان محمد ۲۵ ساله و محمود ۲۷ ساله دو مهاجر سوریایی نشاندهنده چالشی است که مقام های فنلندی با آن مواجه هستند. آن ها در نومبر سال گذشته و در میان برف در حالی که به معبر مرزی سالا رساندند که درجه حرارت به منفی ۲۰ رسیده بود، این دو توانستند از این طریق وارد فنلند شوند.

این دو دوست سوریایی هرکدام از این بایسیکل ها را به قیمت ۳۵۰ دالر در آخرین پسته بازرسی روسیه از واسطه های روسی خریده بودند. براساس قانون ورود از روسیه به فنلند با پای پیاده ممکن نیست.

محمد که برای فرار از جلب و جذب توسط اردوی سوریه نخست به مصر فرار کرده بود، برای دریافت ویزای دانشجویی روسیه ۲۵۰۰ دالر پرداخت کرده بود و با اصرار می گفت که «کاملا قانونی» وارد فنلند شده است. او به رویترز گفت: «من به صورت قانونی وارد پسته بازرسی روسیه شدم و آن ها (بر روی ویزای من) مهر خروج زدند. من در فنلند مهر خروج را نشان دادم و آن ها فورا گذاشتند که من وارد کشور شوم.» محمد افزود که پس از آن در خاک فنلند تقاضای پناهندگی داده است.

محمد و محمود گفتند که هرکدام ۵ هزار دالر به یک قاچاقبر سوریایی پرداخته اند تا آن ها را از طریق بلاروس به آلمان برساند. اما آن ها لت و کوب شده و توسط گاردهای مرزی پولند و لیتوانیا عقب زده شده اند.

پولند و کشورهای حوزه دریای بالتیک با تکرار اتهامات فنلند برعلیه روسیه می گویند که بلاروس، یک متحد ماسکو از سال ۲۰۲۱ با همین روش مهاجران را به مرز مشترک آن ها قاچاق می کند.

محمود گفت: «ناگهان این خبر نشر شد که مرز فنلند (با روسیه) گشوده شده است. این پیام در تلگرام نشر شد و قاچاقبران برای فرستادن مردم به فنلند تبلیغات در مورد خدمات شان را آغاز کردند».

این دو دوست سوریایی در حال حاضر در انتظار تصمیم نهادهای دولتی فنلند راجع به درخواست های پناهندگی شان هستند.

به گفته سامولی مورتونن، یک مقام بلندپایه اردوی فنلند، با وجود تنش های افزایش یافته با ماسکو، گاردهای مرزی فنلند هنوز هم به صورت منظم با همکاران روسی خود دیدار می کنند.

او به رویترز گفت: «مشکل اصلی این است که از نظر آن ها هرکس که در روسیه به صورت قانونی اقامت داشته باشد، می تواند کشور را ترک کند.» او افزود که گاردهای مرزی روسیه در گذشته نمی گذاشتند که کسی بدون ویزای معتبر وارد اتحادیه اروپا شود.

اتهامات متقابل روسیه

روسیه به نوبه خود فنلند را متهم کرده است که با دعوت از مهاجران باعث ایجاد این وضعیت مرزی شده است.



مهاجران در مرز فنلند با روسیه. عکس: رویترز

ولادیمیر کولیشوف، رئیس سرویس فدرال امنیت روسیه (اف اس بی) به تاریخ ۲۸ ماه می به خبرگزاری دولتی «ریا» گفت: «ما از این اطمینان داریم که از نظر مقام های دولتی فنلند تحریک عامدانه بحران مهاجرت در مرز بین روسیه و فنلند لازم است تا پلان های ناتو به اجرا دربیاید و در کل ایالات متحده امریکا بتواند (به این وسیله) در محل زیرساخت های نظامی ایجاد کند و در خاک کشورهای آن ها به شمول مناطق هم مرز با روسیه نیروهای خارجی مستقر کند».

در همین زمینه
روند درخواست پناهندگی در پولند

رانتانن، چنین ادعایی را بی معنا خوانده و رد کرد. او هیچ مدرکی برای آن چه که در ماه فبروری ادعا کرده بود ارائه نکرد و می گوید که در این وضعیت تغییری ایجاد نشده است. رانتانن به نقل از مقام های استخباراتی گفته بود که هنوز هزاران مهاجر در منطقه مرزی هستند و برای عبور از مرز و ورود به فنلند انتظار می کشند.

وزارتخانه او به این إقرار کرد که پلان ها برای تصویب یک قانون موقت به منظور عقب زدن مهاجران به روسیه ناقض تعهدات فنلند در مورد موازین بین المللی حقوق بشر است.

سازمان عفو بین الملل روز دوشنبه اعلام کرد که این پلان ها دسترسی به پناهندگی را کاهش می دهد و «حکم نوعی چراغ سبز برای اعمال خشونت و استفاده از روش پوش بک (عقب زدن اجباری) در مرز را دارد».


Website: https://morr.gov.af

Twitter: https://twitter.com/MoRRAfg

Facebook: https://www.facebook.com/morr.gov.af2

**محمود در این میان گفت، برای او روشن است که خروج آن ها از روسیه و ورود به فنلند با کنترول مقام های مرزی روسیه انجام شده است. به گفته او آن ها هربار فقط به شمار محدودی از مهاجران اجازه چنین کاری را می دهند. او گفت: «اگر روسیه بخواهد فنلند را از پناهجویان لبریز کند، می تواند ده ها هزار تن را به آن جا بفرستد«.**

خبرنامه